# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد      بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم      از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com      www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۰۷ دسمبر ۲۰۱۶

## شپږپنځوسم مجلس(خدای پاک ته پام اومراقبت)

دیکشنبی په سهارد۵۴۵ هجری قمری کال دروژی دمیاشتی په اوولسمه، شیخ عبدالقادر(قدس الله سره) په مدرسه کی داسی وفرمایل:

(ای دخدای بنده) وینم چی ستا بدلونونه دحق دمراقبینو اوخائفینوڅخه توپیر لری، ته دشراوفساد داهل سره یوشوی یی، اوله اولیاو اواصفیاو سره مو پریکړون کړی، زړه دی دحق له حب څخه تش کړی، اودنیوی تعلاقاتو اودهغی داهل په ښادی اوفرح دی ډک کړی. آیا نه پوهیږی چی له خدایه خوف دزړه ساتونکی،اودهغی روښان اومنورکونکی دی؟ که په دی قاعده پایداره پاته شی، پوه شه چی ددینا اوعقبی سلامت دی له لاسه ورکړی دی. که مرګ په یاد راوړی، له دنیا سره به دی خوښی لږ اوله هغی به دی زهد اوګوښه والی ډیرشی. دچاچی پای مرګ وی ځرنګه به په دنیا خوښ شی؟ پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (لِکُلّ سَاعٍ غَایَةٌ وَغَایَةُ کُلّ حَیٍّ الْموتُ)-«هریوخوځښت پای لری، اودهرژوندی پای مړینه ده».

دغمونو،ښادیو،بدایتوب، درویشی، کړاونو، هوساینو، ریځوریو، دردونو-دټولو پای مرګ دی. هرڅوک چی مړ شونوقیامت یی برپاشو،هغه څه چی دده سره و، ورته نیږدی به شی.

په هرهغه څه چی بوخت یی، پرته له هوی اوهوس بل څه ندی.پس په هغه څه کی چی یاست،په زړه اوباطن تری راووزه. دنیا لره هم زمان معلوم دی اوآخرت لره زمانه معلومه ده.زیاروباسه چی ټول غم اوهم دی دالهی اوامرو له اطاعت سره وی،اوکه داسی وی نوټول وجود به دی خاص خدای لره ځانګړی شی.پوه شه چی معصیت دنفس دشتون پواسطه دی، اوطاعت اوبندګی دهغی په نابودی(کنترول) کی ده، له شهواتوسره مینه دنفس له وجهی ده، اوتری لیری والی یی دنفس په فقدان(نه شتون) کی دی. دله لذایذ اوشهوتونوڅخه پرته دشرعی داحکامو، ډډه وکړه. له دنیا اودهغی له نعمتو څخه دی باید ګټه اخیستنه دتقوی ازهدپه لاسونو ترسره شی، په دی حال کی دی چی خوامخوابه خپل مقرر شوی قسمت ته کش اوهدایت شی، ولی هرڅومره که په ظاهره تری ګټورکیږی، باید قلباً تری بیزاره اوسی، ولی دمقسوم روزی لپاره کناره ګیری لازمه نده،پدی حال کی کناره ګیری ظلمت (تیاره)، اوهغه څه ته علاقه چی په ازلی علم کی درته مقررشوی، نوردی.هرکله که تیاری لاړی نو،روښنایی ته به ورسیږی، اوهغه خدای چی دایی درته مقرر کړی، هم ووینی.

دکارپیل دی تیاره دی، ولی کله چی دالهی عنایت په وجه تیاری لیری شی، کاربه دی نور،روښنایی اومعرفت ته ورسیږی. هرکله که دمعرفت دسپوږمی نورخپورشو، اودخدای پیژندنی علم په زړه کی راپورته شو، تولی تیاری اوظلمتونه به لیری شی، دتوان په اندازه به درته قضایاوی اومسایل روښانه شی، اوپه هغی پسی به ټولی ستنونزی حل شی، دښواوبدو پاکواوناپاکودتوپیردید(لید)به هم دځان په نسبت اوهم دنوروپه نسبت درته پیداشی.دحق اومخلوق دغوښتنوترمنځ به توپیروپیژنی،دحق اوخلق درگاه به وپیژنی، په دی حال کی به داسی ګټی ترلاسه کړی چی هیڅ سترګی نه وی لیدلی اوهیڅ غوږ نه وی اوریدلی اودهیچاپه زړه هم نه وی تیرشوی. زړه به دی دحق دجمال دلیدو دطعامه څخه برخورداره شی، دانس له شرابوبه یی وڅکی، اودقبول په خلعت به مفتخرشی، اوپه دی حال کی دی چی دخلکو په ارشاد به مأمورشی. ترڅو دخدای په امرددوی ګټی وموِمی اوله ضلالت اوګمراهی یی وژغوری. دحق پروړاندی یی له ګناه اوعصیانه وساتی. اودشریعت په مضبوطه کلاکی چی دشهواتوله آفته په امان کی وی ،ځای پرځای کړی.ای چی دغه وینا اودغه حال نشی درک کولای، پوه شه چی بی ایمانه یی، پوه شه چی پرته له مغزه پوستکی یی، وچ لرګی یی چی یوازی دسیځلو لپاره کاریږی اودا ترهغه وخت پوری ده چی توبه ونه باسی اوایمان رانه وړی اوتصدیق ونکړی.

وای پرتا! خبراوسه چی یوازی هغه وخت به دباطن خیراوسلامت ترلاسه کړی اودهغی خواږه به وڅکی ، کله چی توبه وکړی، ایمان راوړی، اوصدق ته راشی، اوغیرله دی به په زړه کی ناسازګاره عوامل اومعارض پیداکړی، چی دزړی په ځیربه دی ژبه اوځیګرتوتی کړی. زما وینا ومنه، ځکه زه ستا دمحبت رسی ووم، اوستا دګټولپاره ګامونه اخلم.ولی له ماسره دښمن یی؟آیا زما اوستا ترمنځ ددښمنی کوم څه شته؟ زه په حکم کی دجومات په ځیریم چی پکی لمونځ کیږی، اوستا ددرون ککړتیاوی اوچټلی پاکوم، لاره درته په ګوته کوم، اوموخه می داده چی له پاکومعنوی خوړو اوڅښوڅخه ګټه واخلی، اوالبته ددی کارپه مقابل کی درڅخه هیڅ ګټه اوپاداش نه غواړم، زما پاداش اومقرری ستاڅخه نشته، دبل چا سره دی.زماکارهغوکسانو ته خدمت کول دی چی دحق عزّوجلّ ددرګاه غوښتونکی(طالب) دی. هرکله که له زړه دخدای پالونکی شوی نوزه به هم په ټول وجود ستا په خدمت کی شم، ځکه هرکله که بنده په رینښتینی سره دحق غوښتونکی و، ټولی اشیاوی به یی په خدمت کی قرارونیسی.

(ای دخدای بنده) ته دنفس واعظ(لاربنوود) اوسه، له اونوروسره محاجه اوجګړه مه کوه. زما وعظ ظاهری دی اوستا وعظ باطنی دی اویوازی ته تری خبریی. نفس ته تل دمرګ په یادولوسره پند ورکړه، له مادی تعلقاتوسره پریکړون وکړه، له رب الارباب خدای سره وصل شه، لاسونه دلوی خلاق په لمن کی واچوه، اوله ده وغواړه چی دعنایت اورأفت لاندی دی ونیسی. له خدایه مه لیری کیږه، اوپه نورو مه بوخت کیږه، ځکه له نورو سره علاقه دی له خدایه لیری کوی. هرکله که یوله تاسوزماپه لاسونووژغورل شی، زما دخوښی سبب ګرځی، اوکله که وګورم چی زما ونیا نه اوری، خپه کیږم. مومن زما سره دنیږدی کیدوتمایل لری اومنافق له تیښته کوی.

ای منافقینو، له هغه غضب څخه چی خدای پرتاسو لګوی ، خوښ اوموافق یم، ځکه زه خدای دداسی اورپشان په تاسو ګمارلی یم. ولی هرکله که موتوبه وکښله اوهغه څه چی درته وایم ،قبول کړل، اوزما دوینازښت والی مو ومانه، هغه وخت پرتاسو سریږم.

وای پرتاسو! ولی شرم نه کوی؟!ستاسو طاعت ښکاره دی او عصیان اونافرمانی موپټه. پوه شی چی ژربه ددمرګ دمنګلو اسیرشی، اوخدای عزّوجلّ داور زندان ته به ورننوزی.

اوتاسوای په اعمالوکی مقصیرینو، ولی شرم نه کوی؟! تاسو شپه اوورځ په بیکاری تیروی، اوهیله هم لری چی دخدایی نعمتونو څخه ګټورواوسی. صالحه اعمالوته مخه کړی، دخدای ویره په زړونو کی ځای کړی، ترڅو یی تیاری لیری شی. هرکله که مو توبه وکړه نو دهغی پیل،پای اوچهارچوب اومحدوده په ټوله سره وپیژنی.

ای له خپل ریښتینی ارباب څخه تښتیدلو، ای هغوچی ځانونه مستغنی بولی، اودانبیاو، مرسلینو، اصفیاو اوصالحینوله رایی اولارښوونومو سرغړونه کړی، ای کسانو چی په خلکوواثق یاست اوحق موهیرکړی، آیا دګران رسول روح ښونکی وینا مونده اوریدلی چی فرمایلی یی دی: (مَلْعُونٌ، مَلْعُونٌ مَنْ كَانَتْ ثِقَتُهُ بِمَخْلُوقٍ مِثْلِهِ)-« ملعون دی، ملعون دی هغه څوک چی باور اوثقت یی دځان په څیرپه بل مخلوق وی».

ددنیا په طلب کی حریص مه اوسه، اوکوم شی ترقهراوغضب لاندی مه راوله چی داکارله سرکه چی عسل خرابوی، ستا زړه فاسدوی.

وای پرتا! ددنیا حب اوتکبردی په ځان کی جمع کړی، اونه پوهیری چی که دادوه صفتونه په چاکی وی نو درستګاری مخ به ونه ګوری، مګرکه توبه وکړی. هوښیاراوسه اوپه ځیرکی وګوره چی څه یی،څوک یی، اودڅه لپاره خلق شوی یی، اوله کوم څه نه پیداشوی یی، پس تکبرمه کوه، ځکه پرته له هغه نه چی په خدای اورسول جاهل اوله صلحاو بی خبره وی، بل څوک تکبرنکوی. ای کم عقله! دمقام دلوړوالی په طلب کی یی، اوقصد لری چی په تکبراونخوت سره هغه ترلاسه کړی، پوه شه چی په اشتباه کی یی، تواضع وکړه اوسرټیټی اوسه ترڅو دی مقام اورتبه پورته شی. نبی اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دی: (مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رِفَعَهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللهُ)-«هرڅوک چی دخدای پروړاندی متواضع اوفروتن وی، خدای هغه ته دمقام رفعت ورکوی، اوهرڅوک چی متکبره وی، خوارکوی یی».

هرڅوک چی په آخرت راضی شو،نودنیا یی هم ترلاسه کړی. هرڅوک چی په کم اواندک راضی شول ،نوپراختیااوفراوانی ته به ورسیږی. هرچاچی دخدای په لاره کی خواری ته ځان ورکړ،عزت اوبزرګی ته به ورسیږی. پس ته هم دحق په لاره کی له خواریو سره راضی اوسه ترڅو رفعت ترلاسه کړی. هرچاچی دالهی مقدراتوپروړاندی ځان حقیروشمیره نوخدای پاک به یی منزلت لوړکړی. عزّوجلّ خدای په ټولو کارونو توانا دی. تواضع اوحسن ادب دی چی خپل خدای ته دی نیږدی کوی، اوتکبراوسوءادب دی له خدایه لیری کوی! دحق طاعت اوبندګی دی صلاح ته راولی اوقرب ته دی رسوی، اوګناه اومعصیت دی فاسدوی اوله خدایه دی لیری کوی.

(ای دخدای بنده) دین په انځیرومه پلوره، خپل دین دسلاطینو اوپادشاهانو په انځیرومه بدلوه. هرکله که دی دین دارتزاق (روزی راس ته راوړو) وسیله وګرځوله نوزړه به دی تورشی، ولی به نه توریږی؟ ځکه تا عملا په دی کارسره دخلکو بندګی منلی ده. ای بی مقداره، که دایمان دنورذره دی په زړه کی وای،دحلالو اوحرامو، شبه اومباحو، اودهغه څه چی زړه توروی اوهغه څه چی زړه روښانه کوی، اوهغه څه چی قرب ته دی رسوی اوهغه څه چی له حق نه دی لیری کوی، توپیراوفرق قایل شوی وای.

ای نادانانو! درسته لاره، مشروع کسب اوپرخدای توکل دی. دامرپه بدایت کی دایمان سره کسب، اودقدرت په وخت کی ایمان قوی شی، دخلکو له لاسه اخیستل کیږی. اوداچی ومی ویل چی باید وسایل له منځه لاړشی په دی معنی ده ، چی زړه موباید دخدای عطااوبښنی ته متوجه وی، اوټولی واسطی اووسیلی له سترګولیری کړی، یوازی په هغه څه چی خدای فرمایلی عمل وکړی، دنورو له مدح اوذم(ستایل اوغندل)،قبول اورد څخه لیری شی، هرکله که یی له خلکو عطا ولیده نوله خدایه دی وګڼی، اوکه له منع سره مخ شو،بیادی هم له خدایه وګڼی، ځکه داولیاوو قوم په دغسی مواردوکی یوازی خدای ته متوجه دی اودمخلوق له کاره ړانده اوکاڼه اولال دی. عزّ وجلّ خدای به هرحال کی ناصر، خوارونکی، عطابښونکی، منع کوونکی، ضرراونفع رسونکی بولی اونه له غیره. دوی دصفا په سرصفا، دپاکی په سر پاکی، پرتوله

نړی یی تکیه کول له زړه ایستلی اوپه زړوکی یی پرته دخدای له یاده بل څه ندی پاته، هغه څه چی پکی پاتی دی ، دخدای ذکردی اوبس.

**لویه خدایه ، خپله پیژندنه زمونږ نصیب وګرځوه.آمین!**

وای پرتا! ګمان کوی چی کولای شی خپل دغل نفس زماپروړاندی صالح اونیکو وښیی؟ ای منافقه که دستوروای، نوستا ټولی فضایح(ناولتوب) به می ښکاره کړی وای، ځکه زه دخدای په لاره کی له هیچا ویره نلری.

هرکله چی بنده خدای وپیژانده، په خلکوتکیه اوالتجاء یی له زړه کډه کوی، اوداسی چی وچی پاڼی له ونی رږیږی، دخلکوپرستش(پالنه) یی له زړه وزی، باطن یی دخلکو له دیداره ړوند،اوله ویناو یی کوڼ کیږی. هرکله چی یی نفس مطمئنه مرحلی ته ورسید، په ټوله سره خدای ته تسلیمیږی، دده خواته متوجه کیږی، اوله هغه څه نه چی دده سره دی ګټمن اوبریالی کیږی، اودنیاهم دده ګټوته مخ راوړی. دغه خدایی سنت اولاره ده چی دطالبینوسره ترسره کیږی. دنیا ددوی دویشل شوو برخودترلاسه کولو لپاره ورته ښکاره کوی، ولی دیوی بدرنګی اوبداندامه زړی بوډی په څیره کی، چی یوازی خپلی مقدری برخی تری واخلی اوهیڅ پاملرنه اواعتنا ورته ونکړی.

(ای دخدای بنده) زړه دخپل خدای لپاره فارغ کړه، اعضا اوغړی دی دکوراوبچیانوپه مشروع کسب باند ولګوه، اودخدای په امراودشرعی په حکم سره دی کاروته لاس واچوه، ولی پوه شه چی دخدای دغوښتنی پروړاندی ساکت اوچپ اوسه، اودده لپاره به دتکلیف تعین نکوی، ځکه داعمل له دعا اوغوښتنی چی داصرار اوالحاح سره وی، بهتره دی. خپل علم اوپوه دخدای په علم اوپوهه کی محوه وګڼه، اوخپل تدبیردده دخواست اوغوښتنی پروړاندی ناچیز وشمیره، خپله اراده دده دارادی پروړاندی مه دروه،دمقدراتوپروخت په خدای توکل کوه اوپه خپل عقل مغروره نشی، که غواړی چی خدای پاک دی په ټولوحالاتو کی یاراومرستیال وی داسی عمل وکړه، اوکه دقرب دمقام غوښتونکی یی، باید دحق پروړاندی بی ارادی اواختیاره اوسی. دمومن اندیښنی اوغم اوهم یوشی دی اوهغه حق ته وصول. دحق دجلال ددرګاه مقیم دی، اوهرکله که یی بشپړ معرفت ترلاسه کړ، درحمت روازی یی پرمخ پرانیستل کیږی، اودهغی له منځه به داسی شیان وګوری چی ژبه یی له ستایلو عاجزه ده، پدی حال کی به له خپله ځانه فانی شی، اوله ټولو مادی علایقو اوبدواخلاقوڅخه به کاملا لیری شی، په نعمت اوسلامت اوطیبت(پاکی) کی به اوسی، اودحق عزّوجلّ پروړاندی به لکه اصحاب کهف بی اختیاره اوبی ارادی وی، چی پرته دخدای له غوښتنی حرکت نلری، همدسی چی داصحاب کهفوپه هکله فرمایلی: (وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَذَاتَ الشَّمالِ).

(ای دخدای بنده) دغه وینا ته غوږشه، باوراوایمان پری وکړه اومه یی تکذیبوه، ترڅو ددواړو نړیوخیردی پرځان نه وی حرام کړزولی.

«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار». آمین